❖❖❖

# د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ ارزونه

ځېړنوال عبدالصبور مبارز*


**لنډیز**

*په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت او متحده ایالاتو ترمنځ د دوحې تړون لاسلیک شو، چې ورسره د دواړو لورو ترمنځ مستقیم جگړه‌ییز تېکر پای ته ورسېد. په همدغه کال اسلامي امارت یو ځل بیا پر افغانستان واکمن شو او له متحده ایالاتو سره یې په حکومتي کچه تعامل پیل کړ. د دې څېړنې موخه له ۲۰۲۱ز. کال وروسته د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ ارزونه ده. د څېړنې مسئله دا ده، چې د متحده ایالاتو حکومت اوسمهال د اسلامي امارت پر وړاندې هم‌مهاله له تعامل، ښکېلتیا، محدودو همکاریو، او فشار اچونې له وسیلو څخه استفاده کوي او تګلاره یې له ابهاماتو ډکه ده. په دې توګه د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې، متحده ایالات د اسلامي امارت په اړه څه ډول بهرنۍ پالیسي لري او کومې مشخصې موخې تعقیبوي؟ د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره په دې څېړنه کې له تشریحي-تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او معلومات په کتابتوني بڼه راټول شوي دي. د څېړنې موندنې ښیي چې متحده ایالات له اسلامي امارت سره د اړیکو رامنځته کولو په دوه لارې کې دی، یعنې نه ورسره په مطلق ډول اړیکې پرې کولای شي او نه یې هم په رسمیت پېژندلی شي، نو له همدې امله یې دربېیمه لاره خپله کړې او هغه دا چې له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي، په ځینو برخو کې ورسره تعامل او همکاري وکړي لکه د ترهګرۍ او نشه‌یي توکو د مخنیوي او بشري مرستو په برخه کې او د ځینو نورو برخو د منلو په موخه پرې د فشار بېلابېلې وسیلې وکاروي.*


***کلیدي کلمې:*** *اسلامي امارت، متحده ایالات، بهرنۍ سیاست، بشري مرستې، دوه‌اړخیزې اړیکې*

---

* د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی

**سریزه**

اسلامي امارت په خپله لومړۍ دوره کې هم له متحده ایالاتو سره ښکېل پاتې شوی او د هغوی له ګټو استازو سره یې هغه مهال لیده کاته کړي دي. په لومړۍ دوره کې د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسۍ دوې بنسټیزې موخې لرلې؛ لومړی، په افغانستان کې د امریکایي شرکتونو پانګونې او سوداګرۍ ته لاره پرانیستل، ځکه له یوې خوا افغانستان خپله طبیعي سرچینې لرلې او له بلې خوا د افغانستان له مهم جغرافیایي موقعیت څخه دغو شرکتونو په اسانۍ د خپلې سوداګرۍ لپاره ګټه اخیستلی شوی، د همدې موخې د تعقیب لپاره په ۱۹۹٦ز. کال کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت مرستیال روبین رافېل افغانستان ته سفر وکړ او د اسلامي امارت له مشرانو سره یې وکتل. په دغه سفر کې له مرکزي اسیا څخه د افغانستان له لارې جنوبي اسیا ته د تېلو او ګازو د انتقال پر پروژه هم خبرې شوې وې (Sahar Khan, 2018). دویم، په سیمه کې د امریکایي سیالانو په ځانګړې ډول د ایران کنټرولول او د اسلامي امارت له لارې د هغوی ځپل، ځکه هغه مهال ایران د اسلامي امارت د مخالفو ډلو ملاتړ کاوه او دا چاره د دې لامل شوی و، چې ایران د متحده ایالاتو او اسلامي امارت ګډ دښمن شي او په دې برخه کې د متحده ایالاتو کانګرس هغه مهال شل میلیونه ډالره د ایران د ځپلو لپاره تصویب کړي وو (Bilal et al, 2022, P. 1568).

د سپټمبر د یولسمې له پېښې وروسته په ۲۰۲۱ز. کال کې د دوحې تر تړون پورې دا مرحله د اسلامي امارت او متحده ایالاتو د مستقیم جګړه‌ییز ټکر مرحله ده. د دې مرحلې په دویمه نیمایي کې سره له دې چې په قطر کې د سولې خبرې اترې روانې وې، خو په افغانستان کې د دواړو لوریو ترمنځ د اوربند کومه هوکړه نه وه، خو کله چې په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت او متحده ایالاتو ترمنځ د دوحې تړون لاسلیک شو، نو د دواړو لوریو ترمنځ مستقیم جګړه‌ییز ټکر پای ته ورسېد او د اسلامي امارت او متحده ایالاتو ترمنځ په حکومتي کچه تعامل پیل شو. د دې څېړنې مسئله دا ده، چې د متحده ایالاتو

حکومت د دواړو لورو ترمنځ له جګړه‌ییز ټکر پای ته رسېدو راوروسته د اسلامي امارت پر وړاندې هم‌مهاله له تعامل، ښکېلتیا، محدودو همکاریو، او فشار اچونې له وسیلو څخه استفاده کوي او تګلاره یې ثابته نه ده.

په اوسني نړیوال نظام کې متحده ایالات یو زبرځواک هېواد دی او د نړۍ په اکثرو دولتونو یې اغېز او نفوذ څرګند دی، او له همدې کبله ورسره د تعامل او رسمي اړیکو رامنځته کول یوه اړتیا ده. همدغې اړتیا ته په کتلو دا مهمه ده چې لومړی د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي وڅېړل شي او بیا اسلامي امارت د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ په رڼا کې خپله پالیسي رامنځته او تعامل ته لاره پرانېزي. د دې څېړنې موخه هم د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ څېړل دي. د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې، متحده ایالات د اسلامي امارت په اړه څه ډول بهرنۍ پالیسي لري او کومې مشخصې موخې تعقیبوي؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره په دې څېړنه کې له تشریحي-تحلیلي مېتود او د موادو راټولولو له کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د څېړنې جوړښت په دې ډول دی چې، له سریزې وروسته د څېړنې تیوریکي چوکاټ روښانه شوی، بیا د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ مخینه بحث شوې، ورپسې د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ عمده برخې څېړل شوې او بیا د پایلې، وړاندیزونو او مأخذونو په راوړلو سره مقاله پای ته رسېدلې ده.

## د څېړنې تیوریکي چوکاټ

له لومړۍ نړیوالې جګړې مخکې د بهرنۍ پالیسۍ ځینو پوهانو د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ په اړه ځینې تیوریانې وړاندې کړې، چې وروسته بیا په ځانګړو مکتبونو بدلې شوې. په دې برخه کې درې تیوریانې ډېرې مهمې دي چې د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي له همدغو تیوریانو څخه په اغېز سره ترتیب شوې، او موږ هم خپله څېړنه د همدغو تیوریانو په چوکاټ کې څېړو. دا تیوریانې په لاندې ډول دي:

۱- همیلتونیزم[1]: دا تیوري الیکساندر همېلټن ته منسوبه ده. نوموړی په ۱۷۵۵ز. کال کې پېدا شوی او د امریکا په انقلاب او خپلواکۍ کې یې ونډه اخیستې ده. نوموړی د متحده ایالاتو د لومړني جمهور رئیس جورج واشنګټن د مهمو او باوري ملګرو څخه و او کله چې د امریکا انقلاب بریالی شو، نو همیلټن د متحده ایالاتو د خزانې وزیر شو. نوموړي د متحده ایالاتو د اساسي قانون په جوړېدو کې هم ونډه اخیستې ده ( Carson Holloway, 2015). دا تیوري وایي چې د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي د ملي ګټو پرځای پر امریکایي ارزښتونو ولاړه ده، خو دا ارزښتونه په نورو هېوادونو پرته له جګړې او مداخلې په داسې ډول منل غواړي چې متحده ایالات لومړۍ خپل ځان د هغو ارزښتونو نمونه یا الګو کړي او بیا یې په اختیاري ډول په نورو هېوادونو ومني. لنډه دا چې دا تیوري منافع محوره نه، بلکې ارزښت محوره ده او په نورو هېوادونو کې د مداخلې او جګړې خلاف ده. (بهاره سازمند، ۱۳۹۰ هـ.ل.، ص ۲۴)

۲- جکسونیزم[2]: دا تیوري د متحده ایالاتو د ولسمشر تیوډور روزو ویلټ له وخت څخه رامنځته شوې ده. دا تیوري پر واقعیتونو ولاړه ده او په نړیوال سیاست کې د قدرت پر استعمال باور لري. دا تیوري د همیلتونیزم خلاف په بهرنۍ پالیسۍ کې امنیت محوره او د متحده ایالاتو د ملي ګټو پر لاسته راوړلو ولاړه ده.

د جکسونیزم تیوري درې بنسټیز اصول لري:

الف- د متحده ایالاتو د ملي ګټو د لاسته راوړلو، ساتنې او پراختیا په موخه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او سیمو کې مداخله کول؛

ب- په نړیوال نظام کې د یو قدرت په توګه د متحده ایالاتو د موقعیت ساتل، پراختیا او په دې لاره کې د اړتیا پر مهال له قدرت او زور څخه هم کار اخیستل؛

ج- د متحده ایالاتو ملي ګټو پر وړاندې تهدیداتو ته عاجل ځواب ویل.

---

1 Hamiltonism

2 Jacsonism

۳- ویلسونزم[1]: دا تیوري د متحده ایالاتو د ولسمشر او د هاروارډ پوهنتون استاد ویلسن ته منسوبه ده. د دې مکتب پر بنسټ متحده ایالات د خپلې بهرنۍ پالیسۍ له لارې غواړي چې امریکایي ارزښتونه په نړۍ کې د مداخلې او جګړې له لارې په خلکو ومني.

د دې تیورۍ پر بنسټ متحده ایالات په خپلې بهرنۍ پالیسۍ کې د ژر تېرېدونکو ملي ګټو پرځای دایمي امریکایي ارزښتونو ته اولویت ورکوي او بهرنۍ پالیسي په دې ډول تنظیموي چې نړۍ امریکایي کړي او امریکایي ارزښتونه په نړۍ ومني او که په دې لاره کې اړتیا شي، نو له زور او قدرت څخه هم ګټه اخلي.

د دې تیورۍ پر بنسټ متحده ایالات ځینې وخت د امریکایي ارزښتونو د عملي کولو لپاره په نړۍکې جګړه او مداخله کوي، خو که دا جګړه او مداخله د متحده ایالاتو د ملي ګټې خلاف هم وي باید ترسره شي، یعنې د ملي ګټو او ارزښتونو د ټکر پرمهال باید ارزښتونو ته اهمیت ورکړل شي. (بهاره سازمند، ۱۳۹۰ ، ص ۲۵)

د همیلتونیزم او ویلسونیزم تیوریو ترمنځ بنسټیز توپیر په دې کې دی چې همیلتونیزم د امریکایي ارزښتونو د عملي کولو لپاره په نړۍکې مداخله او جګړه نه مني او ویلسونیزم د امریکایي ارزښتونو د عملي کولو لپاره په نړۍ کې جګړې او مداخلې ته هم اجازه ورکوي.

دا درې تیورۍ له لومړۍ نړیوالې جګړې وړاندې په متحده ایالاتو کې رامنځته شوې دي، خو له دویمې نړیوالې جګړې او حتی تر نن ورځ پورې د متحده ایالاتو ولسمشران له دغو تیوریو اغېزمن دي.

که دا تیورۍ په عملي ډول له سړې جګړې وروسته د متحده ایالاتو پر ولسمشرانو تطبیق کړو، نو ویلای شو چې د جورج بوش (د جورج ډبلیو بوش پلار) بهرنۍ پالیسي د جکسونیزم او ویلسونیزم له تیورۍ څخه، د کلنټن بهرنۍ پالیسي د همیلتونیزم له تیورۍ څخه، د جورج ډبلیو بوش بهرنۍ پالیسي له ویلسونیزم تیورۍ څخه، د اوباما او جوبایډن

---

[1] Wilsonism

بهرنۍ پالیسۍ له همیلتونیزم څخه اغېزمنې وې. د همدغو تیوریو په چوکاټ کې ویلای شو چې که د ټرمپ اوسنۍ بهرنۍ پالیسۍ او کړنو ته وګورو، نو ویلای شو چې ټرمپ د جکسونیزم له تیورۍ څخه اغېزمن دی، ځکه دغه تیوري د مداخلې، فشار او ان د جګړې له لارې د امریکایي ملي ګټو پر لاسته راوړلو باور لري او ټرمپ په منځني ختیځ کې د خپلو ملي ګټو د لاسته راوړلو لپاره پر فلسطین او ایران سخت فشار راوستی، چې په فلسطین کې مستقیمه جګړه رهبري کوي او له ایران سره هم تقریبا جګړې ته داخل شوی، د چین پر وړاندې یې سوداګریزه جګړه پیل کړې، پر نړیوالو سازمانونو یې مرستې بندې کړي او پر اروپایي هېوادونو یې هم تعرفې لوړې کړې دي او دا ټولې کړنې د ملي ګټو د لاسته راوړلو په موخه دي. پر همدې بنسټ ویلای شو چې د اسلامي امارت په اړه هم ټرمپ خپله بهرنۍ پالیسي د همدې تیورۍ په چوکاټ کې پرمخ بیایي، ځکه د فشار په توګه کله د خپلو وسلو د ترلاسه کولو خبره کوي، کله د بګرام هوایي ډګر په اړه غبرګون او کله بیا د بشر حقونو او ټولشموله حکومت خبره د فشار په توګه یادوي او غواړي له دې لارې خپلې ملي ګټې تأمین او پر اسلامي امارت خپلې خبرې ومني.

**د افغانستان په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسۍ ته تاریخي کتنه**

د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي بېلابېل پړاوونه لري؛ له ۱۹۷۹ز. کال څخه د سړې جګړې تر پای پورې افغانستان د متحده ایالاتو په بهرنۍ پالیسۍ کې ځانګړی ځای درلود او د دغه هېواد په اړه یې امنیت-محوره بهرنۍ پالیسي تعقیبوله او لامل یې دا و، چې د سړې جګړې پرمهال په ۱۹۷۹ز. کال د ډسمبر پر ۲۴مه نېټه شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ او متحده ایالاتو ته دا یو فرصت ښکاره شو چې خپل دښمن شوروي اتحاد په افغانستان کې وځپي او د همدې سیاست د عملي کولو په موخه یې د پاکستان ملاتړ ترلاسه او په افغانستان کې یې د شوروي اتحاد پر خلاف له مجاهدینو سره نظامي او لوجستیکي همکارۍ پیل کړې (Dennis Kux، 2001, P. 245).

له سړې جګړې وروسته تر ۱۹۹۸ز. کال او په ځانګړي ډول د سپټمبر تر یولسمې پورې افغانستان د متحده ایالاتو په بهرنۍ پالیسۍ کې کوم ځانګړی ځای نه درلود، ځکه په افغانستان کې د شوروي اتحاد ماتول د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ بنسټیزه موخه وه او هغه ترلاسه شوه، نو ځکه یې له شوروي اتحاد سره په ۱۹۹۱ز. کال په سپټمبر میاشت کې هوکړه وکړه چې دواړه لوري به نور افغانستان ته نظامي وسایل نه لېږي او له افغانستان څخه به خپلې پښې وباسي. له دې هوکړې وروسته متحده ایالاتو له افغانستان سره خپلې نظامي اړیکې پرې او متحده ایالاتو اعلان وکړ چې: افغانستان نور د متحده ایالاتو د رادار په ښیښه کې نشته (Ibid, P. 317.) او د بوش حکومت د ۱۹۹۲ز. کال له کلنۍ بودیجې څخه هم د افغانستان د مرستو برخه وایستله (Shah M. Tarzi, 1992, P. 190). له سړې جګړې وروسته د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو د دغه ډول پالیسۍ ځینې دلایل په لاندې ډول دي:

۱- په متحده ایالاتو کې ځینې پالیسي جوړونکي په ځانګړي ډول د متحده ایالاتو د ملي امنیت سلاکار برېنټ سکوکروفټ[1] په دې نظر و چې د افغانستان شخړه نور د لویو قدرتونو ترمنځ د سیالۍ او نیابتي جګړې شخړه نه ده، بلکې دا یوه کورنۍ جګړه ده او د متحده ایالاتو پالیسي د دغه ډول جګړو د دفاع لپاره نه ده.

۲- په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مداخلې د پالیسۍ بنسټیزه موخه د شوروي اتحاد ماتول وو او هغه موخه ترلاسه شوه او له دې وروسته په افغانستان کې د متحده ایالاتو نور شتون د دوی د ملي ګټو برخه نه وه.

۳- د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او استخباراتي ادارې د متحده ایالاتو حکومت ته وړاندیز وکړ، چې یوازې ډیپلوماسي د افغانستان شخړه نه‌شي حل کولای او متحده ایالات باید له مجاهدینو سره نظامي همکاري هم وکړي ترڅو د ډاکټر نجیب حکومت چې شوروي

[1] Brent Scowcroft

پلوی حکومت و، نسکور او پر ځای یې مجاهدین واک ته ورسېږي او د دې کار بله ګټه به دا وي چې د متحده ایالاتو اړیکې به له سعودي عربستان او پاکستان سره نږدې شي. خو متحده ایالاتو په دوه دلایلو دغه پالیسي انتخاب نه کړه؛ لومړی، د مجاهدینو خپلمنځي اختلافات دې حد ته رسېدلي وو چې متحده ایالاتو فکر کاوه که دوی واک ته هم ورسېږي، نو یوه کورنۍ جګړه به پیل شي او د مجاهدینو خپلمنځي اختلافاتو او کورنۍ جګړې پرمهال به د متحده ایالاتو ګټې خوندي نشي. دویم، ځینو مجاهدینو، لکه: ګلبدین حکمتیار او عبدالرب رسول سیاف پر کویټ د صدام حسین د برید ملاتړ وکړ (Ibid, P. 191). چې له امله یې د دوی او متحده ایالاتو ترمنځ د پالیسیو ټکر راغی او له همدې امله متحده ایالاتو له سرې جګړې وروسته له مجاهدینو څخه د ملاتړ پالیسي اختیار نه کړه او افغانستان ته یې په خپله بهرنۍ پالیسۍ کې ځانګړی ځای ورنه کړ.

په ۱۹۹۸ز. کال کې د متحده ایالاتو د پالیسي جوړوونکو پام یو ځل بیا هغه مهال د افغانستان لور ته واوښت کله چې د متحده ایالاتو استخباراتي ادارې سپینې ماڼۍ ته خبر ورکړ چې اسامه بن لادن په افغانستان کې دی. اسامه بن لادن هغه مهال پر دې تورن و، چې نوموړي په نیروبي،کینیا او د تنزانیا په دارالسلام کې د متحده ایالاتو پر سفارتونو بریدونه کړي او په دې بریدونو کې نږدې دوه سوه (۲۰۰) امریکایان وژل شوي وو. په ۱۹۹۸ز. کال د اګست پر ۲۱مه متحده ایالاتو د پاکستان له هوایي حریم څخه په ګټه اخیستنه په افغانستان کې د اسامه بن لادن پر روزنیزو مرکزونو هوایي بریدونه وکړل (Dennis Kux, 2001, P. 348-351) او له دې سره متحده ایالاتو یو ځل بیا په خپله بهرنۍ پالیسۍ کې افغانستان ته ځای ورکړ او په افغانستان کې یې د القاعدې شبکې او اسامه بن لادن کړنې څارلې، تر دې چې په ۲۰۰۱ز. کال د سپټمبر پر یولسمه نېټه پر متحده ایالاتو برید وشو او امریکایي حکومت چې مشر یې جورج ډبلیو بوش و، د دغو بریدونو مسؤول اسامه بن لادن او د هغه شبکه وګڼله او هغه مهال اسامه بن لادن په افغانستان کې و. له همدې امله متحده ایالاتو د ۲۰۰۱ز. کال د اکتوبر پر ۷مه نېټه د پاکستان له لارې پر افغانستان یرغل

وکړ (Kenneth et al, 2017, P. 6-7). له ۲۰۰۱ز. کال څخه تر ۲۰۲۱ز. کال پورې د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي امنیت-محوره وه او افغانستان یې له ناټو څخه بهر د خپلو متحدینو په قطار کې راوستی و. په دې دوره کې د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي دا وه چې په افغانستان کې داسې یو نظام رامنځته کړي چې د دوی تر کنټرول لاندې وي. متحده ایالاتو د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره د بن کنفرانس جوړ او د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې یې په افغانستان کې د نوي سیاسي نظام بنسټ کېښود. همدارنګه په دې دوره کې د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ بله برخه دا وه، چې په دغه هېواد کې القاعده شبکه وځپي او د سپټمبر یولسمې د بریدونو غچ ترې واخلي. متحده ایالاتو همدارنګه غوښتل چې په افغانستان کې د خپل شتون له لارې خپل سیال هېوادونه روسیه، چین او ایران هم کنټرول او تر څار لاندې ونیسي (Mussarat et al, 2010, P. 169).

لنډه دا چې له سړې جګړې وروسته تر ۲۰۰۱ز. کال پورې متحده ایالاتو په خپله بهرنۍ پالیسۍ کې افغانستان ته ځانګړی ځای نه و ورکړی؛ خو پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال او بیا د ۲۰۰۱ز. کال د سپټمبر له پېښې وروسته، افغانستان د متحده ایالاتو په بهرنۍ پالیسۍ کې مهم ځای درلود او متحده ایالاتو امنیتي محوره بهرنۍ پالیسي پلې کوله.

**د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ عمده برخې**

د امریکا متحده ایالات په خپله بهرنۍ پالیسۍ کې د اسلامي امارت په اړه ځینې مشخصې موخې تعقیبوي چې دلته پرې بحث کوو.

**۱- له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې کېدل، خو په رسمیت نه پېژندل:** له اسلامي امارت سره د رسمي اړیکو د رامنځته کولو په برخه کې د متحده ایالاتو پالیسي جوړوونکو ترمنځ د نظر اختلاف دی. یوه ډله وایي چې له اسلامي امارت سره باید رسمي اړیکې رامنځته شي او دا ډله پالیسي جوړوونکي د خپل نظر د تایید لپاره لاندې دلایل راوړي:

الف- اسلامي امارت د ترهگرۍ پر وړاندې مبارزه کې بريالی دی او کولای شي چې د داعش په ګډون هغه ډلې له منځه يوسي چې متحده ايالاتو ته ګواښ پېښولی شي، خو که متحده ايالات له اسلامي امارت سره رسمي اړيکې رامنځته نه کړي او په دې برخه کې له اسلامي امارت څخه ملاتړ ونه‌کړي، نو کېدای شي چې دا مبارزه کمزورې او شته ډلې قوي شي، چې دا بيا د متحده ايالاتو ملي امنيت ته ګواښ پېښولی شي (Foreign Affairs, 2023).

ب- اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د کښت او قاچاق د مخنيوي په برخه کې ګټور ګامونه اخيستي او دا هغه څه دي چې متحده ايالات يې په افغانستان کې غوښتونکی دی، ځکه په افغانستان کې د کرل شويو نشه‌يي توکو ډېره برخه اروپا او امريکا ته په قاچاقي ډول لېږدول کېږي. دا ډله پاليسي جوړونکي د متحده ايالاتو حکومت ته مشوره ورکوي چې له اسلامي امارت سره رسمي اړيکې رامنځته او اقتصادي مرستې ورسره وکړي، ځکه که دا کار ونه‌شي، نو اسلامي امارت به د نشه‌يي توکو د کښت او قاچاق له لارې پيسو پيدا کولو او لګښتونو پوره کولو ته کار ووايي او دا په هيڅ ډول د متحده ايالاتو په ګټه نه ده.

ج- اسلامي امارت فعاله سيمه‌ييزه ډيپلوماسي لري او له دې لارې يې د متحده ايالاتو له سترو سيالانو چين، ايران او روسيې سره نږدې اړيکې رامنځته کړې دي. د اسلامي امارت له بيا واکمنۍ راهيسې چين په افغانستان کې تر ټولو ستر پانګوونکی هېواد ګڼل کېږي (ACAPS, 2023) او په ډيپلوماتيکه کچه يې هم د اسلامي امارت سفير په رسمي ډول منلی او خپل سفير يې هم په رسمي ډول کابل ته لېږلی دی. همدارنګه روسيې هم رسما اسلامي امارت د ترهګرو ډلو له ليست څخه وايست (Reuters, 2025) او د ديپلوماتيک تعامل او اړيکو پراختيا په مخ کې يې دغه خنډ له منځه يووړ. د دې ترڅنګ ايران هم په لوړه کچه له اسلامي امارت سره اړيکې لري، نو دې ټولو واقعيتونو ته په کتلو سره که متحده ايالات په رسمي ډول له اسلامي امارت سره اړيکې رامنځته نه کړي، نو ميدان به يې سيالانو ته پاتې شي، چې دا د متحده ايالاتو په ګټه نه ده.

دویمه ډله پالیسي جوړوونکي په دې نظر دي چې اسلامي امارت یوه ایډیولوژیکي او افراطي ډله ده او د دوی په رسمیت پېژندل به دوی نور هم قوي کړي. دا ډله پالیسي جوړوونکي وایي: «دوی لا په رسمیت نه دي پېژندل شوي، نجونې تعلیم، تحصیل او کار ته نه پرېږدي او د یوه استبدادي نظام په توګه بل هیڅ افغان ته په سیاسي پروسه کې ځای نه ورکوي، نو که په رسمیت وپېژندل شول، بشري حقونه به لا ډېر نقض کړي او استبدادي نظام به ورسره نور هم پیاوړی شي» (Foreign Affairs, 2023).

درېیمه ډله پالیسي جوړوونکي په دې نظر دي چې متحده ایالات دې له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي، خو رسمي اړیکې دې ورسره تر هغې نه رامنځته کوي ترڅو چې دوی بشري حقونه رعایت نه کړي، همه شمول حکومت رامنځته نه کړي، امنیتي اندېښنو ته ځواب ونه وایي او د چین او روسیې د مخ پر ودې نفوذ څخه ډاډه نشي.

که پورتني بحث ته وګورو، نو متحده ایالات له اسلامي امارت سره د رسمي اړیکو د رامنځته کولو په دوه لارې کې دی، یعنې نه ورسره په مطلق ډول اړیکې پرې کولای شي او نه یې هم په رسمیت پېژندلی شي، نو له همدې امله یې درېیمه لاره خپله کړې او هغه دا چې له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي ( Graeme et al, 2023)، په ځینو برخو کې ورسره تعامل وکړي او د ځینو برخو داصلاح په موخه پرې فشارونه وارد کړي، چې تراوسه پورې د متحده ایالاتو همدغه ډول بهرنۍ پالیسي ادامه لري (Kate Bateman, 2023).

**۲- د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې له اسلامي امارت ملاتړ کول:** د سټمېسن څېړنیز مرکز د راپور پر بنسټ په افغانستان کې له ۲۴ نه تر ۲۶ پورې وسلهوالې ډلې موجودې وې، چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته دغه حکومت وایي چې دوی دغه ټولې ډلې له منځه وړې او د داعش پر وړاندې جدي مبارزه روانه ده. د دغه څېړنیز مرکز په راپور کې راځي: اسلامي امارت د داعش ۲۰۰۰ جنګیالي ژوندي نیولي او ۵۰۰ جنګیالي یې وژلي دي. داعش چې مخکې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې یې فعالیت

درلود اوس يوازې په کونړ او نورستان کې فعال دي (Stimson, 2024). همدارنګه د متحده ايالاتو کانګرس ته د سيګار د راپور پر بنسټ يوازې د ۲۰۲۵ز. کال په لومړۍ ربع کې اسلامي امارت د داعش پر وړاندې ۱۴ عملياتونه ترسره کړي او د دغې ډلې پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه جدي ده (SIGAR, 2025, P. 23). متحده ايالات هم د داعش پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه ستايي او غواړي چې د ترهګرۍ او په ځانګړي ډول د داعش پر خلاف مبارزه کې له اسلامي امارت څخه ملاتړ وکړي او دغه پاليسي هغه مهال لا غښتلې شوه، کله چې د ۲۰۲۲ز. کال په فبرورۍ مياشت کې متحده ايالاتو د داعش د يو مشر ثناءالله غفاري پر سر ۱۰ ميليونه ډالر انعام کېښود. نوموړی د ۲۰۲۱ز. کال د اګست پر ۲٦مه پر کابل هوايي ډګر بريد کې تورن و، په دغه بريد کې ۱۳ امريکايان هم وژل شوي وو. په ۲۰۲۳ز. کال اپريل مياشت کې د متحده ايالاتو سپينې ماڼۍ خبر ورکړ چې اسلامي امارت نوموړی وژلی دی. (Web Desk, 2023) په دغه خبرپاڼه کې دا هم راغلي وو، چې په افغانستان کې داعش سخت ځپل شوی دی. لنډه دا چې متحده ايالات غواړي چې په افغانستان کې د ترهګرۍ خلاف مبارزه کې له اسلامي امارت ملاتړ وکړي.

**۳- د نشه يي توکو د کښت او قاچاق د مخنيوي په برخه کې له اسلامي امارت ملاتړ کول:** د اسلامي امارت په اړه د متحده ايالاتو د بهرنۍ پاليسۍ بله برخه دا ده چې په افغانستان کې د نشه‌يي توکو د کرکيلې او قاچاق د مخنيوي په برخه کې د اسلامي امارت کړنې وستايي او ملاتړ ترې وکړي. د اسلامي امارت مشرتابه د ۲۰۲۲ز. کال د اپريل پر ۳مه د يوه فرمان په صادرولو سره د نشه‌يي توکو پر استعمال، ساتنې، کر او قاچاق بنديز ولګاوه، چې له امله يې د نشه‌يي توکو په کښت کې ستر بدلون راغی. په ۲۰۲۲ز. کال کې په ټول افغانستان کې پر څه باندې دوه سوه زره (۲۱۹۷۴۴) هکتاره ځمکه اپيم کرل کېدل، چې له فرمان وروسته د اپيمو په کر کې ۸٦ سلنه کموالی راغی او د کر ځمکه څه باندې دېرش زره (۳۱۰۸۸) هکتاره ته راښکته شوه (David Mansfield, 2023). په لاندې جدول کې تاسو د اپيمو کښت په بېلابېلو ولايتونو کې کتلی شې، چې د فرمان له صادرېدو


مخکې څومره کرل کېدل او د فرمان له صادرېدو وروسته يې کر څومره راښکته شوی دی.

| Province | Hectares | | |
|---|---|---|---|
| | 2022 | 2023 | Difference |
| Helmand | 129,640 | 740 | -128,900 |
| Kandahar | 16,446 | 5,685 | -10,762 |
| Uruzgan | 15,094 | 1,878 | -13,217 |
| **Badakhshan** | **13,795** | **15,388** | **1,593** |
| Farah | 11,589 | 532 | -11,058 |
| Nangarhar | 7,355 | 865 | -6,490 |
| Daykundi | 4,931 | 2,165 | -2,766 |
| Baghlan | 3,513 | 1,474 | -2,039 |
| Hirat | 3,341 | 0 | -3,341 |
| Balkh | 2,751 | 2 | -2,749 |
| Nimroz | 2,364 | 209 | -2,156 |
| Kunar | 2,173 | 625 | -1,548 |
| Badghis | 1,483 | 0 | -1,483 |
| Faryab | 1,425 | 0 | -1,425 |
| Laghman | 1,395 | 727 | -668 |
| Ghazni | 915 | 52 | -863 |
| Zabul | 835 | 556 | -279 |
| Jawzjan | 306 | 0 | -306 |
| Kapisa | 297 | 191 | -106 |
| Kabul | 93 | 0 | -93 |
| **Total** | **219,744** | **31,088** | **-188,656** |

| Province | Hectares | | |
|---|---|---|---|
| | 2022 | 2023 | Difference |
| Bamyan | 0 | 0 | 0 |
| Ghor | 0 | 0 | 0 |
| Khost | 0 | 0 | 0 |
| Kunduz | 0 | 0 | 0 |
| Logar | 0 | 0 | 0 |
| Maydan Wardak | 0 | 0 | 0 |
| Nuristan | 0 | 0 | 0 |
| Paktika | 0 | 0 | 0 |
| Paktya | 0 | 0 | 0 |
| Panjsher | 0 | 0 | 0 |
| Parwan | 0 | 0 | 0 |
| Samangan | 0 | 0 | 0 |
| Sar-e-Pul | 0 | 0 | 0 |
| Takhar | 0 | 0 | 0 |

**Source:** Mansfield, David. "Uncharted Territory: Does the Taliban's new edict signal a crackdown on the drugs trade is looming?", ALCIS, Nov 2, 2023, Access link: https://www.alcis.org/post/taliban-drug-crackdown

په لاندې ګراف کې هم د ولایتونو په توپیر سره له فرمان مخکې د اپیمو د کرکیلې کچه په اسماني رنګ او له فرمان وروسته د اپیمو د کرکیلې کچه په زېړ رنګ ښودل شوې ده.




**Source:** Mansfield, David. "Uncharted Territory: Does the Taliban's new edict signal a crackdown on the drugs trade is looming?", ALCIS, Nov 2, 2023, Access link: https://www.alcis.org/post/taliban-drug-crackdown

د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ له دغه فرمان وروسته د اپیمو د کښت کچې د کموالي له امله افغان بزګرانو ته په کلني ډول ۱,۳ میلیارده ډالره زیان لیدلی چې د افغانستان د GDP اته سلنه برخه جوړوي (International Crisis Group, 2024).

لنډه دا چې د نشه یي توکو د کر او قاچاق د مخنیوي په برخه کې د اسلامي امارت مبارزه ګټوره او په دغه برخه کې متحده ایالات او اسلامي امارت سره همغږي دي او له همدې امله د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ یوه برخه دا ده چې د نشه یي توکو د کر او قاچاق د مخنیوي په برخه کې له اسلامي امارت ملاتړ وکړي.

**۴- د چین د نفوذ مخنیوی:** چین په تېر شل کلن جمهوریت کې د متحده ایالاتو د شتون له امله تر یوه بریده له افغانستان څخه لرې پاتې شوی و او اوس چې متحده ایالات

په افغانستان کې نشته، نو له همدې امله غواړي چې له اسلامي امارت سره نږدې اړیکې وپالي او دغه هېواد یو ځل بیا د متحده ایالاتو نفوذ ته پرې نه‌ږدي. چین غواړي له افغانستان څخه د ملاتړ له لارې ټول هغه امنیتي ګواښونه له منځه یوسي چې د دغه هېواد له لارې چین ته متوجه کېدای شي، په ځانګړي ډول د ایغور مسلمانانو قضیه. چین اندېښنه لري چې د ایغور مسلمانان په افغانستان کې پټنځایونه پیدا نه‌کړي او یا هم د افغانستان له لارې له هغوی سره همکاري ونشي. همدارنګه د دغو امنیتي موخو ترڅنګ، چین غواړي چې په افغانستان کې د پانګونې له لارې اقتصادي ګټې هم ترلاسه کړي او د همدغو ګټو د ترلاسه کولو لپاره یې په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونې کړې دي. لیتیم یو له هغو طبیعي سرچینو څخه دي، چې چین ورته د برېښنایي موټرو د تولید په برخه کې اړتیا لري (Nilofar Sakhi, 2023, P. 8 ). افغانستان نږدې د یو ټریلیون ډالرو په ارزښت لیتیم لري او د چین ګوچېن[1] شرکت غواړي په دې برخه کې ۱۰ میلیارده ډالره پانګونه وکړي، چې له لارې به یې په مستقیم ډول یو لک او شل زره او په غیرمستقیم ډول نږدې یو میلیون دندې پیداشي (The Economic Times, 2023).

همدارنګه د ۲۰۲۳ز.کال په جنوري میاشت کې یو چینایي شرکت[2] له اسلامي امارت سره د امو په حوزه کې د ۴۵۰ میلیونه ډالرو په ارزښت د تېلو د استخراج ۲۵ کلن قرارداد لاسلیک کړ (Ahmed S. Cheema, 2023). که څه هم دغه قرارداد د ۲۰۲۵ کال په جون کې د ځینو ستونزو له کبله لغوه شو، خو په ټوله کې د افغانستان په کاني سکتور کې د چینایي شرکتونو د پانګونې لېوالتیا په ګوته کوي. په دغه قرارداد کې افغانستان ۲۰ سلنه برخه لرله چې په راتلونکي کې به ۷۵ سلنې ته رسېدله. (The Economic Times, 2023).

د دې ترڅنګ چین غواړي د افغانستان د زېربناوو په جوړولو کې هم همکاري وکړي،

[1] Gochin
[2] China Petroleum Economics and Information Research Center (CPEIC)

چې تراوسه يې د سالنګ، کونړ او لغمان د سرکونو د جوړولو وعدې کړې او په راتلونکې کې پلان لري چې ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان په افغانستان کې د رېل پټلېو او پراخو سرکونو د جوړولو له لارې له پاکستان سره ونښلوي (Ahmed S. Cheema, 2023). د دې ترڅنګ، د ۱۴۰۳ هـ.ل. کال د قوس پر دريیمه يې د رېل له لارې خپل سوداګریز توکي د قزاقستان او ازبکستان له لارې په مستقيم ډول مزار شريف ته راولېږل.

په سياسي برخه کې چين په رسمي ډول افغانستان ته خپل سفير معرفي کړی او د اسلامي امارت سفير يې هم په رسمي ډول منلی دی (Aljazeera, 2023)، چې له امله يې ډيپلوماتيکې اړيکې پياوړې شوې دي. چين له متحده اياﻻتو سره پر اسلامي امارت د فشار له کارولو سره همغږی نه دی، چين نه غواړي چې د اسلامي امارت په کورنيو چارو کې ﻻسوهنه وکړي او د بشر د حقونو او همه شمول حکومت قضيې د دواړو هېوادونو ترمنځ په اړيکو کې خنډونه رامنځته کړي، بلکې د چين لپاره د سيمې ثبات او امنيت تر ټولو مهمه موضوع ده. له افغانستان څخه د متحده اياﻻتو له وتلو سره سم، چين ته دا فرصت په ﻻس ورغی چې په افغانستان کې شتون پيداکړي او له اسلامي امارت سره د تعامل له ﻻرې وضعيت د خپلو ګټو په محور بدل کړي. پر همدې اساس دوی له افغانستان څخه خپل ډيپلوماتيک کارکوونکي نه دي ايستلي او په کابل کې يې خپل سفارت فعال ساتلی دی. سربېره پر دې، د افغانستان وضعيت چين ته دا زمينه برابره کړه چې په افغانستان کې د متحده اياﻻتو د شل کلنې جګړې، د ملت جوړونې ناکامۍ او اوسني اقتصادي او بشري بحران څخه د متحده اياﻻتو پر خلاف د پروپاګند په توګه ګټه واخلي.

چين په افغانستان کې اوږدمهالې ستراتيژيکې ګټې لري، په ځانګړي ډول دوی غواړي چې د کان کېندنې په برخه کې د پانګونې او د يو کمربند يوې لار (Belt and Road Initiative) نوښت د بريالي پلي کولو لپاره له افغانستان څخه ګټه واخلي او په همدې

موخه یې هڅې وکړې چې افغانستان له سیپیک[1] سره ونښلوي او دغه دوه اړخیز اقتصادي دهلیز په څو اړخیز اقتصادي دهلیز[2] بدل کړي (Ashraf Jehangir Qazi, 2023).

په دې وروستیو کې په ځانګړي ډول د ټرمپ په لومړۍ او دویمه دوره کې له چین سره د متحده ایالاتو سوداګریزه جګړه پیل شوې او د دې جګړې ترڅنګ متحده ایالات غواړي چې په اندوپاسفیک کې چینایي ګټې له ګواښ سره مخ کړي او چین پرې نه‌ږدې چې په نړیوال نظام کې د متحده ایالاتو د یوه سیال په توګه سر راپورته کړي. د همدې موخې د لاسته راوړلو لپاره په اندوپاسفیک کې له جاپان، هند، استرالیا، جنوبي کوریا او تایوان څخه ګټه اخلي.

که له یوې خوا د متحده ایالاتو او چین دغو سیالیو ته وګورو او له بلې خوا په افغانستان کې د چین پرمختګونو او نفوذ ته وګورو، نو ویلای شو چې د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ یوه مهمه برخه په افغانستان کې د چین د نفوذ مخنیوی دی. متحده ایالات غواړي چې چین په افغانستان کې په دومره کچه نفوذ ونه لري، چې دغه هېواد په بشپړ ډول د متحده ایالاتو له لاسرسي څخه ووځي. د اسلامي امارت د لومړۍ دورې په خبر متحده ایالات غواړي چې په افغانستان کې امریکایي شرکتونه هم پانګونې وکړي او د افغانستان له طبعي سرچینو څخه د سوداګرۍ په موخه ګټه پورته کړي، خو د متحده ایالاتو او اسلامي امارت په اړیکو کې د بې باورۍ له امله دغه چاره تراوسه له ننګونو سره مخ ده او چین له دغه فرصت څخه په ګټه اخیستنې په افغانستان کې په لوړه کچه پانګونې ته مخه کړې او دې چارې امریکا متحده ایالات اندېښمن کړی دی او دا اندېښنه یې له دې هم ښه معلومیږي چې ټرمپ وایي د بګرام هوایي اډه د چینایانو په کنټرول کې ده (Islomkhon Gafarov, 2025)، او باید موږ یې بېرته ترلاسه کړو. د ټرمپ

[1] CPEC
[2] China, Afghanistan, Iran, Central Asia and Pakistan CAICAP

دا خبره دا هم ثابتوي چې متحده ایالات غواړي په افغانستان کې د چین د نفوذ مخه ونیسي.

**۵- بشري مرستې:** د متحده ایالاتو نړیوال سیالان هڅه کوي چې په افغانستان کې د بشري او اقتصادي بحران پړه پر امریکایانو ورواچوي او له دې لارې خپل پروپاګند پرمخ یوسي او نړۍ ته ووایي چې متحده ایالات چې هر چېرې تللي هلته یې تر شا بشري او اقتصادي بحران پرې ایښی دی. متحده ایالات د همدا ډول تبلیغاتو د مخنیوي او له اسلامي امارت سره د ښکېل پاتې کېدو په موخه له افغانستان سره بشري مرستې کوي. متحده ایالات دا بشري مرستې له څو لارو څخه چمتو کوي: یو، د نړیوالو ادارو لکه خوړو نړیوال سازمان، د روغتیا نړیوال سازمان او نور...، دویم، ملګرو ملتونو له لارې (د ۲۰۲۳ز. کال لپاره ملګرو ملتونو ۴,۶ میلیارده ډالر په افغانستان کې له بشري بحران سره د مبارزې لپاره ځانګړي کړي وو)، درېیم، نړیوال ډونران چې په هغې کې ځینې اروپایي، امریکایي او اسیایي هېوادونه شامل دي او څلورم خپله امریکا متحده ایالات دي، چې د سیګار د ۲۰۲۴ز. کال د راپور پر بنسټ د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ څخه تر ۲۰۲۴ز. کال تر مې میاشتې پورې متحده ایالاتو له افغانستان سره ۱۷,۹ میلیارده ډالره مرسته کړې ده. خو په دې مرسته کې ۱۰,۸ میلیارده ډالره یې له افغانستان څخه د خپلو افغان همکارانو پر ایستلو او په متحده ایالاتو کې یې ځای پر ځای کولو باندې لګولي، ۳,۵ میلیارده ډالر یې د افغانستان کنګل شوې شتمني د سویس یو اکاونټ ته لېږلي، چې د افغانستان د خلکو لپاره هلته خوندي وي او یوازې ۲,۸ میلیارده ډالر یې افغانانو ته د بشري مرستې په توګه رالېږلي چې هغه هم اسلامي امارت ته نه دي ورکړل شوي بلکې د نړیوالو مؤسساتو له لارې یې په افغانستان کې لګولي دي (Catherine Putz, 2024). لنډه دا چې د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ بله موخه دا ده چې د افغانستان له خلکو سره بشري مرستې وکړي او دغه هېواد په بحران کې پرې نه‌ږدي تر څو نړیوال سیالان یې د دوی پر خلاف د تبلیغاتو په توګه استعمال نه کړي او بل دا چې له دې لارې له اسلامي امارت سره هم ښکېل پاتې شي.

**٦- د فشار د وسایلو کارول:** د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ بله برخه دا ده چې پر دغه نظام د خپلو غوښتنو د منلو په موخه د فشار له وسایلو کار واخلي. د متحده ایالاتو هغه غوښتنې چې په علني ډول یې مطرح کوي، له شپږم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځیو پرانېستل، د نجونو او ښځو د کار حق، ټول‌شموله حکومت رامنځته کول، له القاعدې او نورو ډلو سره د اړیکو پرېکول او د امنیتي اندېښنو رفع کول دي. پر اسلامي امارت د دغو غوښتنو د منلو په موخه د فشار بېلابېل وسایل کاروي. په دې برخه کې د متحده ایالاتو لومړنی اقدام د افغانستان د ۹،۴ میلیارده ډالرو شتمنۍ کنګل کول او د دغه هېواد پر بانکي سیستم او ځینې نورو اقتصادي برخو د بندیزونو لګول وو. همدارنګه د فشار بله وسیله د اسلامي امارت پر ځینو مشرانو د بندیزونو لګول دي، د بېلګې په ډول د بشري حقونو د نقض له امله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر وزیر خالد حنفي او د علومو اکاډمۍ پر رئیس مولوي فریدالدین محمود د تازه بندیزونو لګول (U.S. Department of the Treasury, 2023). په دې برخه کې تر ټولو ستر فشار چې متحده ایالات ترې ګټه اخلي هغه د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل دي او د رسمیت پېژندنې په برخه کې د متحده ایالاتو رول ډېر مهم دی ځکه اکثره هېوادونه په دې برخه کې د متحده ایالاتو اقدام ته په تمه دي. د دې ترڅنګ د متحده ایالاتو اوسنی ولسمشر ټرمپ غواړي چې له اسلامي امارت څخه د خپلو وسلو د بېرته اخیستلو (The Express Tribune, 2025) او د باګرام هوایي اډې د ترلاسه کولو له لارې دغه نظام تر فشار لاندې راولي. دا او دې ته ورته نور د فشار وسایل هغه لاره ده چې متحده ایالات یې په خپله بهرنۍ پالیسۍ کې د اسلامي امارت په اړه تعقیبوي تر څو د دوی غوښتنې ومنل شي.

**پایله**

په عمومي ډول د اسلامي امارت په اړه د امریکا د متحده ایالاتو پالیسي په داسې تعامل ولاړه ده چې نه یې په بشپړ ډول منزوي کېدو ته پرېږدي او نه یې هم په رسمیت پېژني او

د پالیسۍ دا ډول وضعیت ته مشروط تعامل[1] او یا هم ستراتیژیک انتظار[2] ویل کېږي او دا ډول پالیسي د سیمې او افغانستان د حالاتو او شرایطو بدلون پورې اړه لري، یعنې که د افغانستان داخلي وضعیت کې داسې بدلون راشي چې متحده ایالاتو ته د منلو وړ وي، نو پالیسي هم ورسره بدلون مومي او که په سیمه کې داسې شرایط رامنځته شي چې متحده ایالاتو سره بله لاره نه وي پرته له دې چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، نو بیا هم د پالیسۍ د بدلون حالت رامنځته کېږي.

په اوسنیو شرایطو کې متحده ایالات غواړي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې، د نشه‌یي توکو د کښت او قاچاق د مخنیوي او د بشري مرستو په برخه کې له اسلامي امارت سره تعامل او مستقیمې اړیکې ولري او په دې برخه کې یې ملاتړ وکړي، خو له شپږم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځیو پرانېستل، د نجونو او ښځو د کار حق، همه شموله حکومت رامنځته کول، له القاعده او نورو ډلو سره د اړیکو پرېکول، د چین د نفوذ مخنیوی او د امنیتي اندېښنو رفع کول هغه مسایل دي چې متحده ایالات یې له اسلامي امارت څخه غواړي. په دغو غوښتنو کې یې د ځینو منلو ته اسلامي امارت اماده نه دی او دا د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه ګڼي او له همدې امله متحده ایالات د دغو غوښتنو د منلو په برخه کې پر اسلامي امارت د فشار بېلابېل وسیلې کاروي، چې له امله یې دوه اړخیزې اړیکې لا رسمي شوې نه دي.

## وړاندیزونه

۱- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې له متحده ایالاتو سره د خبرو اترو مستقیم چېنل پرانېستی پرېږدي او له دغه هېواد سره د تقابل پر ځای له تعامل څخه کار واخلي.

۲- اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې د متوازنې بهرنۍ پالیسۍ په تعقیبولو سره د

[1] Conditional Engagement
[2] Strategic Patience

متحده ایالاتو، روسیې، چین او ایران ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي ترڅو افغانستان یو ځل بیا د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر نشي.

۳- اسلامي امارت دې په افغانستان کې امریکایي شرکتونو ته هم د پانګونې اسانتیاوې رامنځته کړي، ترڅو له یوې خوا اقتصادي پراختیا رامنځته شي او له بلې خوا د چین او متحده ایالاتو ترمنځ په اقتصادي برخه کې هم توازن رامنځته شي.

۴- اسلامي امارت دې له متحده ایالاتو سره د خبرو اترو پرمهال د رسمي اړیکو د رامنځته کولو په موخه له ترهګرۍ سره د مبارزې او نشه‌يي توکو د مخنیوي له کارډ څخه ګټه واخلي، ځکه دا د اسلامي امارت د قوت ټکي دي.

## مأخذونه:


1. سازمند، بهاره. سیاست خارجی قدرتهای بزرگ، مؤسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر، تهران، ۱۳۹۰هـ.ل.

2. Acaps. "AFGHANISTAN China's humanitarian aid and economic investments", Thematic report, 31 July 2023, Access link: https://www.acaps.org/fileadmin/Data_Product/Main_media/20230731_ACAPS_Thematic_report_Afghanistan_China_s_humanitarian_aid_and_economic_investments.pdf

3. Ahmed S. Cheema, "China's Gamble in Afghanistan", The Diplomat, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/05/chinas-gamble-in-afghanistan/#:~:text=China%E2%80%99s%20investments%20in%20Afghanistan%20have%20been%20growing%20in,explore%20and%20develop%20oil%20reserves%20in%20northern%20Afghanistan.

4. Aljazeera, "Taliban gives a warm welcome to China's new ambassador to Afghanistan", 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/9/13/taliban-gives-a-warm-welcome-to-chinas-new-ambassador-to-afghanistan

5. Ashraf Jehangir Qazi, "Pakistan's Afghanistan policy", DAWAN News, August 17, 2023, Access link: https://www.dawn.com/news/1770589/pakistans-afghanistan-policy

6. Bilal, Huma. Malik, Abdul and Jamil, Muhammad Shoaib. "US-TALIBAN RELATIONS: A HISTORICAL PERSPECTIVE", Pak. Journal of Int'L Affairs, Vol 5, Issue 2 (2022), Access link: https://www.pjia.com.pk/index.php/pjia/article/view/538/398

7. Foreign Affairs Asks the Experts. Should the United States Normalize Relations with the Taliban? August 21, 2023, Access link: https://www.foreignaffairs.com/ask-the-experts/should-united-states-normalize-relations-taliban-afghanistan

8. Gafarov, Islomkhon. " Evolving U.S. policy on Afghanistan: From counterterrorism to strategic engagement", kun.uz, 30.04.2025, Access link: https://kun.uz/en/news/2025/04/30/evolving-us-policy-on-afghanistan-from-counterterrorism-to-strategic-engagement

9. Graeme Smith and Ibraheem Bahiss. The World Has No Choice But to Work With the Taliban, Foreign Affairs, August 11, 2023, Access link: https://www.foreignaffairs.com/afghanistan/world-has-no-choice-work-taliban

10. Holloway, Carson. Alexander Hamilton and American Foreign Policy, The Heritage Foundation, 2015, Access link: https://www.heritage.org/political-process/report/alexander-hamilton-and-american-foreign-policy

11. International Crisis Group. " Trouble In Afghanistan's Opium Fields: The Taliban War On Drugs", Report N340, 12 September 2024, Access link: https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/340-trouble-afghanistans-opium-fields-taliban-war-drugs

12. Jabeen, Mussarat, Muhammad Saleem Mazhar and Naheed S. Goraya. "US Afghan Relations: A Historical Perspective of Events of 9/11", South Asian Studies A Research Journal of South Asian Studies, Vol. 25, No. 1, January-June 2010, Access link: https://www.researchgate.net/publication/338096779_US_Afghan_Relations_A_Historical_Perspective_of_Events_of_911

13. Kate Bateman. A Shift Toward More Engagement with the Taliban? United States Institute of Peace, October 25, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/10/shift-toward-more-engagement-taliban

14. Katzman, Kenneth and Thomas, Clayton. "Afghanistan: Post-Taliban Governance, Security, and U.S. Policy", Congressional Research Service, December 13, 2017, PDF link: https://sgp.fas.org/crs/row/RL30588.pdf

15. Khan, Sahar. "Double Game: Why Pakistan Supports Militants and Resists U.S. Pressure to Stop", Cato Institute, September 20, 2018, Access link: https://www.cato.org/policy-analysis/double-game-why-pakistan-supports-militants-resists-us-pressure-stop

16. Kux, Dennis. The United States and Pakistan 1947-2000 Disenchanted Allies, 2001, THE JOHNS HOPKINS UNIVERSITY PRESS, Access link: https://archive.org/details/unitedstatespaki00denn/page/n499/mode/2up

17. Mansfield, David. “Uncharted Territory: Does the Taliban’s new edict signal a crackdown on the drugs trade is looming?”, ALCIS, Nov 2, 2023, Access link: https://www.alcis.org/post/taliban-drug-crackdown

18. Putz, Catherine. “What Is the State of US Assistance to Afghanistan and Afghans?”, THE DIPLOMAT, May 07, 2024, Access link: https://thediplomat.com/2024/05/what-is-the-state-of-us-assistance-to-afghanistan-and-afghans/

19. Radio Azadi. “Freight Train Arrives In Afghanistan From China As Beijing Looks To Increase Ties”, November 24, 2024, Access link: https://www.rferl.org/a/china-afghanistan-freigh-train-link-taliban/33214113.html

20. Reuters. “Russia removes Afghan Taliban from list of banned terrorist groups”, April 17, 2025, Access link: https://www.reuters.com/world/russia-removes-afghan-taliban-list-banned-terrorist-groups-2025-04-17/

21. Sakhi, Nilofar. “Regional Security Complexity and Multilateral Diplomacy: A Case Study of Afghanistan and its Regional Neighbors”, International Journal of Security Studies & Practice, 2023, Access link: https://ijssp.ungjournals.org/articles/24/files/6453ee74944f9.pdf

22. SPECIAL INSPECTOR GENERAL FOR AFGHANISTAN RECONSTRUCTION, QUARTERLY REPORT TO THE UNITED STATES CONGRESS, JAN 30 2025, Access link: https://www.sigar.mil/Portals/147/Files/Reports/Quarterly-Reports/2025-01-30qr.pdf

23. Stimson. TRANSCRIPT – Afghanistan’s Evolving Terrorism Landscape under the Taliban, August 21, 2024, Access link: https://www.stimson.org/2024/transcript-afghanistans-evolving-terrorism-landscape-under-the-taliban/

24. Tarzi, Shah M. “Afghanistan in 1991: A Glimmer of Hope”, Asian Survey, Vol. 32, No. 2, A Survey of Asia in 1991: Part II (Feb., 1992), Access link: https://www.jstor.org/stable/2645218

25. The Economic Times, “China eyes Afghanistan's lithium reserves, offers to invest USD 10 billion”, 2023, Access link: https://economictimes.indiatimes.com/news/international/world-news/china-eyes-

afghanistans-lithium-reserves-offers-to-invest-usd-10%20billion/articleshow/99521732.cms?utm_source=contentofinterest&utm_medium=text&utm_campaign=cppst

26. The Express Tribune, “Trump demands return of US military equipment left in Afghanistan”, February 28, 2025, Access link: https://tribune.com.pk/story/2531481/trump-demands-return-of-us-military-equipment-left-in-afghanistan

27. U.S. Department of the Treasury, “Treasury Designates Perpetrators of Human Rights Abuse and Commemorates the 75th Anniversary of the Universal Declaration of Human Rights”, December 8, 2023, Access link: https://home.treasury.gov/news/press-releases/jy1972

28. Web Desk. “Terrorist Sanaullah Ghafari, involved in attack on Pakistan embassy, killed in Kabul”, The News International, June 09, 2023, Access link: https://www.thenews.com.pk/latest/1078602-most-wanted-terrorist-sanaullah-ghafari-killed-in-kabul